امیرِ اهلسنّت نه د

# ښځې او خاوند

## په باره کښې سوال جواب

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمه:
ٹرانسلیشن ڈیپارٹمنٹ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# امیرِ اهلِسنّت نه د ښځې او خاوند په باره کښې سوال جواب

## فرمانِ آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چا ته چې څه مشکل پیښ شي هغه له پکار دي چې په ما باندې کثرت سره درود شریف لولي ځکه چې په ما باندې درود شریف لوستل مصیبتونه او بلاګانې لرې کوي.

(القول البدیع، ص 414، بستان الواعظین ص 274)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نیکې ښځې واقعه

سوال: د نیکې ښځې یوه واقعه بیان کړئ

جواب: حضرت طلحه بن عبیدالله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابي دے. یوه شپه د هغوئي په بارګاه کښې د یمن شریف د ښار **حَضْرَمَوْت** نه اووه لاکه درهمه راغلل. رقم ئې چې واخستو نو پریشانه شو. ښځې ورته عرض اوکړو: نن په تاسو څه شوي دي؟ اوئې فرمائیل: زه دې فکر کښې اخته یم چې د چا شپې د الله پاک په عبادت کښې تیریږي نو د هغه په کور کښې چې دومره مال موجود دے نو نن به هغه د خپل پروردګار په بارګاه کښې څنګه حاضریږي؟ ښځې ورته په ډیر ادب عرض اوکړو:" دې کښې د پریشانۍ څه خبره ده؟ تاسو خپل نادار یعنې غریبانان ملګري ولے هیروَئ؟ سحر وختې هغوئي را اوغواړئ او ټول مال په هغوئي باندې د تقسیمولو نیت اوکړئ او اوس د الله پاک په بارګاه کښې په ډیر اطمینان سره حاضر شئ." د نیک بختې ښځې خبره ئې چې واوریده نو هغوئي ډیر خوشحاله شو او ارشاد ئې

اوفرمائيل: واقعي ته د نيک پلار نيکه لور ئې. چنانچه سحر کيدو سره هغوئي په مهاجرينو او انصارو صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان تول مال تقسيمول شروع کړل.(1)

اللّٰهُ اکبر! زمونږ د صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان سخاوتونه داسې وو. زمونږ سره که پيسے راشي نو د خوشحالۍ نه بےقراره شو. خو که هغوئي له به دولت راغے نو هغوئي به پريشانه کيدل چې دا دولت ولے راغے؟ زه په دې اوس څه اوکړم؟ د حضرت طلحه بن عبيدالله رَضِیَ اللّٰه عَنۡهُ څومره اوچت شان دے او د هغوئي بي بي ماشاءالله څنګه نيکه زنانه وه، هغه دور د نيکو خلقو دور وو.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:20)

هر صحابئ نبي..................... جنّتي جنّتي

تولي صحابياني هُم ............. جنّتي جنّتي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## آيا ښځه خاوند به په جنت کښې يو ځائے وي؟

سوال: آيا ښځه او خاوند به په جنت کښې يو ځائے اوسيږي؟

جواب: جي بالکل! که د ښځې او خاوند خاتمه په ايمان باندې اوشوه نو دا دواړه به په جنت کښې يو ځائے اوسيږي. (التذکرۃ باحوال الموتی وامور الاخرۃ، ص462) که په دوئي کښې د کوم يو مَعَاذَاللّٰه ايمان سلامت پاتې نه شو نو دوزخ به ئې ځائے وي او څوک چې جنت ته لاړ شي د هغه به بل جنتي سره نکاح اوشي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:8)

## خپلې بي بي سره ښه سلوک کوئ

---

[1] ... د حضرت طلحه بن عبيد الله د دغې محترمې بي بي نوم اُم کلثوم دے، چې د اميرالمؤمنين حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ لور وه. (سیر اعلام النبلاء، 3/19، الرقم:7 ملتقطا)

سوال: که خاوند د خپلې ښځې سره نرمي کوي نو خلق وائي ”زَن مُرید“ [یعني د ښځې غلام] ترینه جوړ شوے دے د دې څه حل دے؟

جواب: که یو کس د خوفِ خدا په وجه خپلې ښځې سره د خوش اخلاقئ سلوک کوي یا ورسره نرمي کوي او خلق ورته د ”زن مرید“پیغور ورکوي نو یقیناً دا به د هغه د زړۀ آزارولو سبب جوړیږي. خو خاوند له پکار دي چې د خپلې بي بي سره حسنِ سلوک جاري ساتي د خلقو په خبرو دِ زړه نه کمزورے کوي او هیڅ کله دِ هم په خپل سلوک کښې تبدیلي نه راولي بلکه نوره نوره نرمي د، اختیار کړي. په دې زمانه کښې د خلقو انداز بالکل بدل شوے دے خصوصاً خپلې ښځې سره د هغوئي سلوک ښه نه وي. د دې باوجود داسې خلق د خپلې ښځې نه معافي غوښتل د خپل شان کمے ګڼړي، حالانکه که په ښځه دِ ظلم کړے وي نو د هغې نه معافي غوښتل واجب دي. داسې خلقو له پکار دي چې د خپلې ښځې نه معافي اوغواړي. دا ضروري نه ده چې ظلم دِ کړے وي نو معافي به غواړي بلکه احتیاطي معافي هُم چې اوغوښتلے شي نو بیا هم څه حرج نشته بلکه احتیاطي معافي غوښتل د ښځې او خاوند په مینځ کښې د مینې د زیات والي سبب دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما معمول دے چې زه احتیاطي معافي غواړم لکه کومه ښه شپه یا ښه ورځ [مَثَلًا شَبِ براءَت یا عید میلادُ النبي یا اختر] راشي نو زه د معافئ تلافئ ترکیب جوړوم، په داسې کولو هیڅ کله هم د چا په شان کښې کمے نه راځي او نه د چا عزت کمیږي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:11)

سوال: آیا ښځه د خاوند جوته چائے څښلے شي؟

جواب: دواړه د یو بل جوته څښلے شي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:26)

سوال: نن صبا په کورونو کښې د انټرنیټ او سوشل میډیا د ډیر زیات استعمال په وجه د ښځې او خاوند په مینځ کښې قِسماقِسم مسائل بلکه د طلاق کیدلو پورې معاملات پیښیږي، څه حل ئې ارشاد اوفرمائې؟ (د نګرانِ شورې د سوال خلاصه)

جواب: د انټرنیټ بے ځایه استعمال د خپل ځان او د کور بربادي ده، لِهٰذا د کور چلولو د پاره ښځې او خاوند له د دې د زیات استعمال نه بچ کیدل پکار دي. که ښځه نیټ استعمالوي او هم هغه وخت ورته خاوند اووائي چې ماله چائے پوخ کړه نو هغې له پکار دي چې لبیک اووائي او پاخي او سمدستي ورته چائے پیش کړي، که داسې وخت کښې نۀ پاخي نو کور به څنګه چلیږي؟ ښځې له د خاوند اطاعت کول پکار دي ځکه چې قرآن پاک کښې دي:

﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾(پ5، النساء:34)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: "نارینه په زنانؤ باندې افسران دي."

که ښځه د خاوند خبره نه مني نو خپل مینځ کښې به ئې د وینا جګړے راځي. که ښځه جواب ورکوي نو د دنیا د بربادۍ سره سره به ئې آخرت هم تباه کیږي. هر یو به د بل غلط ثابتولو کوشش کوي. د دروغو، غیبت، تهمت او نورو ګناهونو دروازے به بیرته شي مثلاً ښځه به وائي چې زه به ئې وهلم او او په ما باندې به ئې ظلم کولو، خوراک، او خرچه به ئې نه راکوله. په جواب کښې به خاوند هم ډیر ډیر الزامونو لګوي او د دې جنګ نتیجه به مَعَاذَاللّٰه طلاق یا جدائي وي بس الله پاک دِ په مسلمانانو باندې رحم اوفرمائي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:35)

سوال: بعضې خلق د ښځې او خاوند په مینځ کښې د جدائي د پاره عملیات کوي، که په ښځه باندې د هغه جادو اثرات وي او د خاوند کور ته راشي نو د هغې [جادو] په وجه ئې ساه بندیږي نو دا مسئله څنګه حل کړے شي.

جواب: علمیات کوونکي د ښځې او خاوند په مینځ کښې جُدائي راوستلو د پاره عملیات کوي خو دا خبره به څنګه ثابته شي چې چا په دې باندې څه کړي دي یا فلانکي خپلوان پرې څه کړي دي؟ بعضې عاملان د جادو کولو والا په باره کښې څه اشاره ورکوي یا د هغه د نوم اولنے حرف اوښائي، نو که اتفاقاً د یو خپلوان نوم د هغه حَرف نه شروع کیږي نو د هغه په

باره کښې به بدګماني کيږي چې جادو کوونکے هُم دا دے حالانکه هغه ته به پته هم نه وي نو داسې عاملان په خپل مينځ کښې دوه جنګوي. د خاوند په کور کښې که د ښځې ساه بنديږي نو تر څو پورې چې شرعي ثبوت نه وي تر هغې پورې د چا په باره کښې دا وئيل مشکل دي چې فلانے خپلوان په دوئي کښې د عمل په ذريعه جدائي راوَلي. د باباجي وينا ته شرعي ثبوت نه شي وئيلے. ښځه چې کله هم د خاوند کور ته لاړه شي نو ساه ئې بنديږي، د دې څو څه بله وجه هم کيدے شي. نفسياتي اثر هم کيدے شي، څو که په ذهن کښې ئې دا خبره ناسته وي چې د خاوند کورته لاړه شم نو ساه مې بنديږي ځکه چې فلانئ ورځ مې هم ساه بنده شوې وه حالانکه يو ځل داسې کيدل د بيا بيا کيدلو دليل نه دے. کيدے شي چې په هغه ورځ چرته په پؤړو باندې د ختلو په وجه ئې د سترګې کيدو په وجه د خاوند کور ته رسيدو سره ساه لنډه لنډه شوې وي او اتفاقاً بنده بنده هُم محسوسه شوې وي او بيا دا واقعه دليل جوړوي او وائي چې د خاوند په کور کښې زما ساه بنديږي. ياد ساتئ! د نفسياتي اثر لوئ لوئ اثرات وي او بنده ته داسې ښکاري چې هغه سره داسې کيږي حالانکه په حقيقت کښې داسې نه وي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:52)

سوال: که ښځه د خپل خاوند نه پينځه يا شپږ مياشتې بيله اوسيږي نو آيا دې سره په نکاح باندې څه فرق پريوځي؟ او که د خاوند د رضا نه بغير بيله اوسيږي نو بيا څه حکم دے؟

جواب: ښځه که د خپل خاوند نه بيله اوسيږي نو دې سره په نکاح کښې هيڅ فرق نه راځي. که ښځه د خاوند د رضا نه بغير بيله اوسيږي نو بيا هم نکاح نه ماتيږي خو ګنهګاريدل بيله خبره ده. که خاوند ظلم کوي او په دې وجه بيله اوسيږي نو بيا دارالافتاء اهلِسنت ته رجوع کول پکار دي چې هلته صورتِ حال بيان کړے شي چې ولے د خاوند نه بيله اوسيږي؟ خو دې سره نکاح نه ماتيږي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:65)

سوال: آيا ښځه د خاوند نه مخکښې بيعت کيدے شي؟

جواب: آؤ جي! کیدے شي په دې کښې څه حرج نشته.(ملفوظاتِ امیراہلِ سنت،قسط:65)

سوال: که د ښځې او خاوند په مینځ کښې بے اتفاقي راشي او جنګ جګړې اوشي نو د دې څه حل دے؟ (د sms په ذریعه سوال)

جواب: د یو لاس نه پړق نه خیژي، که خاوند ته څوک اووائي چې معافي اوغواړه نو هغه به وائي چې ولے معافي اوغواړم؟ دا د خُلې نه خلاصه ده. او که ښځې ته اووائي چې ته معافي اوغواړه نو هغه به وائي چې زه ولے معافي اوغواړم؟ دۀ ماته داسې وئیلي وو. که دا دواړه لږ شان د یو بل خبره اومني نو مسئله به حل شي. البته صحیح خبره دا ده چې په قرآن کریم کښې دي:

﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾ (پ5،النساء:34)

[مَفہُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: نارینه په زنانؤ باندې افسران دي."

نو نارینه په زنانه باندې حاکم دے، په دې وجه به زنانه د نارینه اطاعت کوي، نارینه به د زنانه اطاعت نه کوي، خو د دې مطلب دا هم نه دے چې نارینه دِ ظلم کوي، وهل ټکول دِ کوي، داسې کول نه دي پکار، که خاوند ظُلم اوکړي نو هغه به د ښځې نه مُعافي غواړي، که په دې خبره کلک شي چې "زه د زنانه نه معافي اوغواړم؟ د ښځې نه معافي اوغواړم؟ زه د خپلې بي بي نه مُعافـي اوغواړم؟، زه معافي اوغواړم؟ خلق به څه وائي؟" نو یاد ساتئ که په آخرت کښې الله پاک اوفرمائیل چې دا جهنم ته بوځئ نو بیا به څه کوئ؟ دغه شان که ښځه ژبه چلوي، لګیا وي وَینا کوي، ژبه راوروباسي او لوښي ماتوي نو بیا به هغه معافي غواړي. چا چې هم ظلم کړے وي هغه به د معافئ سره سره توبه هم کوي. عام طور د ذهن یو کیدلو کمے وي، او دا [حال] د کلونو پورې چلیږي، بیا یو بل اوپیژني، بچي وغیره ئې چې اوشي نو عموماً جنګ جګړې کمې شي. بهرحال! جنګ کول نه دي پکار، په ګجراتئ ژبه کښې یو متل دے: "جونَمیُواُوالله نےګَمیُو" یعني چې څوک ټیټیږي هغه الله پاک ته خوښ وي. که د چا قصور نه وي نو بیا هم په مسکا مسکا معافي غوښتل پکار دي، معافي غوښتلو کښې هُم بعضې وخت انداز د خفګان او

انکار والا انداز وي چې: اے ” معاف کوے مې که نه“؟

ځومره ځله درنه معافي اوغواړم؟ په ښپو درته پریوځم؟ نه درته پریوځم، که معاف کوې مې نو معاف مې کړه، ګنې خپلې مور کره لاړه شه“ دا د معافۍ طریقه نه ده، د چا نه چې غلطي اوشي نو هغه له په عاجزۍ، انکسارۍ، او د زړه په خوشحالۍ او صفا ذهن سره معافي غوښتل پکار دي، [په دې انداز چې د یو بل نه معافي اوغوښتلے شي نو] اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! زړۀ به ئې صفا شي. که په خندا او خوشحالۍ ژوند تیروئ نو صحت به مو هم ښه وي، کور به هم آباد وي او د ماشومانو تربیت به هم په ښه طریقه کیږي. او که هره ورځ مو په کور کښې جنګِ عظیم وي او اخواه دیخواه فضول خبرې وي نو ماشومان به هم فضول خبرې او وهل ټکول زده کړي. ځکه په ماشومانو هم رحم کول پکار دي. جنګ جګړې معاف کړئ، خپل زړۀ پاک او صفا کړئ او معاف کول اختیار کړئ. معاف کول د خوږ پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. (مسلم، ص1071، حدیث:6592) نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د فتح مکه په موقع باندې د خپلې وینې تږي هم معاف کړي وو.(مراٰۃالمناجیح، 93/3) په قرآن کریم کښې هم الله پاک ارشاد فرمائي:

﴿خُذِ الْعَفْوَ﴾ (پ9، الاعراف: 199) [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالاِیمان: اے محبوبه! معاف کول اختیار کړه“

همیشه یاد ساتئ چې کله هم د معافۍ غوښتلو موقع راشي نو تاسو له به شیطان راځي چې ”که تا معافي اوغوښتله نو دے به په سر اوخیژي چې اوګوره! قصور ئې وو نو ځکه خو ئې معافي اوغوښتله، زه خو مظلوم او بےقصوره یم“ داسې وسوسے به درځي خو تاسو به شیطان زغلوئ، ځکه چې په معافۍ غوښتلو عزت نه کمیږي بلکه زیاتیږي. زما مشوره دا ده چې کله یو فریق معافي اوغواړي نو دویم فریق دِ هم معافي اوغواړي، بلکه اول فریق دِ د دویم فریق نه زیاته معافي اوغواړي، که اول فریق په جوړه لاسونو معافي غوښتې وي نو دویم فریق دِ ورته په ښپو پریوځي او معافي دِ ترینه اوغوړي. اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم زړونه به ئې ښه پاک او صفا شي. الله

کريم دِ زمونږ کورونه د امن مرکزونه جوړ کړي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:72)

سوال: کور کښې جګړې ختمولو او د مینې ډک ماحول جوړولو د پاره ښځه او خاوند څه کولے شي؟

جواب: یو بل ته مُسکي کیږئ، کله هُم مخ مه پړسوئ. چې خاوند ئې کور ته راشي نو ښځه دِ ورمنده کړي او دروازه دِ ورته بیرته کړي او په خندا کښې دِ ورته "مرحبا، یا په خیر راغلئ" اووائي. بیا دِ ترینه پوښتنه اوکړي چې اوبه درله راوړم؟ چائے درله راوړم؟ که هغه د غُصَّے نه ډک کورته راغلے وي نو هُم داسې قسمه OFFER (پیشکش) سره به ئې غصه سړه شي. خاوند له پکار دي چې کله کله دِ په خپلو لاسو هُم کار کوي، لکه کله دِ یوه نیمه پیالۍ وینځي، کله دِ پاڅي ځپله دِ د اوبو لوښي ډک کړي وغیره. په داسې کولو به د خاوند عزت کم نه شي بلکه د ښځې په نظر کښې به ئې عزت نور هم زیات شي او هغه به ورمنده کړي چې تاسو پریږدئ، زه به ئې ځپله اوکړم. په دې باره کښې زما ذاتي تجربه ده، زمونږ په کور کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه! جنګونه نه کیږي، خو باوجود د دې نه چې زما Physical condition (جسماني حالت) اوس داسې نه دے پاتې او د کرسۍ نه پاڅیدل او یو څیز راخستل، یا کینبودل زما د پاره مشکل وي خو بیا هم چې کله روټۍ راشي نو زه ئې اکثر اوچتووم، هغه "وائي پریږده، زه به ئې اوچته کړم، زه به ئې راوړم" وغیره. هغه عاجزه خو کوتاهي نه کوي خو زما په دې انداز ئې زړۀ خوشحالیږي او د مَحبَّت رشته مضبوطیږي که ما ورته حُکم کولے چې "دا اوکړه، هغه اوکړه" هغه خو به ئې اوکړي خو داسې کول ماته خوند نه راکوي. زه چې چاله څه کاغذ ورکول غواړم نو هُم د حکم کولو په ځائے چې "راشه او کاغذ یوسه" اکثر زه ځپله ورپاڅم او ور ئې کړم چې هغه عاجزه به په کار کښې مصروفه وي، چې هغه راغواړم نو هغه به خپل کار پریږدي او راځي به، د دې نه بهتره دا ده چې زه ځپله پاڅم او ور ئې ورم. که په داسې کولو زما په شان کښې فرق راتلے نو دا په لکونو مینه کوونکي به زما سره نه

وو. ”دانه چې د خاورې سره يو ځائے شي نو ګلِ ګُلزار شي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:76)

سوال: د خاوند ناوخته پورې مطالعه کولو د پاره بلب بَل ساتل څنګه دي؟

جواب: که خاوند د مطالعے کولو شوق لري او د بلب په رنړا کښې مطالعه کوي او بےوسه ښځې له سخت خوب ورځي خو د رنړا په وجه نه شي اُوده کيدے او پرته ده غانبونه چيچي چې که خاوند ته وايم نو جنګ به جوړ شي او بعضې وخت به جنګ هم کيږي. نو داسې کول بالکل مناسب نه دي. ياد ساتئ! په يو کمزورې يا ماتحت باندې د ظلم کولو اجازت هيڅ کله هم نشته اګرکه هغه حاکم وي. نورو ته تکليف ورکولو باندې خپل آخرت مه بربادوئ او داسې ځائے کښې مطالعه کوئ کوم ځائے کښې چې بل ته تکليف نه رسي.

(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:77)

سوال: که ښځه خاوند ته اووائي چې زۀ ډيره تعليم يافته يم او ته زما نه کم تعليم يافته ئې، نو آيا هغه داسې د خاوند بے عِزَّتي کولے شي؟

جواب: توبه، استغفرالله! په داسې وئيلو به د خاوند زړۀ خفه کيږي او ښځه به خپل کور وران کړي، دې سره به د کاغذ ليکلے شوے سند وي خو بعضې وخت د خاوند سره تجربه وي اګر چې هغه تعليم يافته نه وي. بهرحال چاته داسې وئيل د سخت زړۀ ازارولو سبب کيدے شي. زه خپل ځان سره د ملاقات د پاره تشريف راوړونکو اسلامي ورونړو ته ورکولو دپاره رساله ګرځوم ، بعضې وخت به داسې هم کيدل چې چا له به مې رساله ورکوله نو بل اسلامي ورور به راته اُووئيل چې دوئي ته اردو نه ورځي، ما داسې وئيلو والا پوهه کړي دي چې داسې مه وائي ځکه چې داسې وئيلو سره د مخامخ کس زړۀ خفه کيدے شي، ښکاره خبره ده چې پاکستان کښې اوسيدونکي ته اردو نه ورځي نو دا د حيرانتيا خبره ده، او که هغه پخپله اووائي چې ما ته اردو نه راځي نو بيله خبره ده. ما داسې خلق هم ليدلي دي چې ښه انګريزي ورځي، عام تعليم يافته کس چې ئې اووينې نو حيران به شي خو اردو نه ورځي.(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:97)

# خاوند ته کنزلې کول څنګه دي؟

سوال: د ښځې خپل خاوند ته په ټوقو کښې کنزلې کول څنګه دي؟

جواب: کنزلو کولو ته په حديثِ پاک کښې فِسق (ګناه) وئيلې شوي ده. (بخاری،1/30،حديث:48) که ښځه خپل خاوند ته کنزلې اوکړي نو دا به نوره هم سخته شي ځکه چې دې له د خاوند تعظيم او فرمانبرداري کول دي او خاوند د ښځې بادشاه او حاکم دے چنانچه قرآن پاک کښې دي:

﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾ (پ5،النساء:34)

[مَفہوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: سړي په ښځو باندې افسران دي."

چې خاوند د خپلې ښځې حاکم دے نو د حاکم احترام زيات کول پکار وي لِهٰذا ښځې که خاوند ته کنزلې کړي وي نو توبه دِ اوباسي، د خاوند نه دِ معافي اوغواړي او بيا دِ داسې کولو نه ځان ساتي.(ملفوظاتِ امیراہلِ سنت،قسط:52)

سوال: که ښځه لـمونځ ګزاره جوړول وي نو څه طريقه اختيارول پکار دي؟ او ښځه د کنزلو نه په څه طريقه منع کړے شي د دې هم څه حل بيان کړئ. (د sms په ذريعه سوال)

جواب: ښځې ته په نرمۍ، او مينه مَحبّت باندې د لمُونځ کولو تلقين کول پکار دي او د لمُونځ کولو فضائل، او د نه کولو وعيدونه ورته اوروَل پکار دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه کتاب "فيضانِ نماز" موجود دے، ښځې ته د دې نه درس ورکوئ او په کور کښې مدني چينل چلوئ، داسې کولو سره به د ښځې زړۀ نرم شي او اِنْ شَآءَاللّٰه لمُونځ ګزاره به جوړه شي. که خاوند شور او زوَرک کوي نو ښځه به ضد شروع کړي او بيا مشکله ده که لمُونځ ګزاه جوړه شي.

او کومه چې د کنزلو خبره ده نو مسلمان ته کنزلې کول د ګناه کار دے (بخاری،4/111،حديث:6044)

ښځه او خاوند خو د مسلمانانو کیدلو سره سره نزدې خپلوان هم دي او د هغوئي [خپل مینځ کښې] د صلهٔ رحمیٔ معاملات هم دي. که خاوند ښځې ته کنزلې کوي نو توبه دِ اوکړي او معافي دِ هُم اوغواړي، کنزلې کول خو هسې هم د بنو خلقو کار نه دے، او ښځه خو رفیقهٔ حیات یعني د ژوند ملګرې ده. که ښځه خاوند ته کنزلې کوي نو دا نوره هم ډیره لویه خبره ده، ځکه چې د خاوند په هغې باندې ډیر حق دے، نو دغسې خاوند ته کنزلې کول نور هم ډیر لوئے جرم شو، داسې صورت کښې ښځې له پکار دي چې توبه اوکړي او د خاوند نه معافي اوغواړي. کنزلې کول د بدو خلقو کار دے، کنزلې کوونکي نه خلق نفرت کوي. بعضې کنزلې کوونکي دا ګڼړي چې خلق هغه ته سلام کوي، حالانکه هغوئي سلام ځکه کوي چې ستا د شر نه بچ شي، چې "یار! دهٔ سره ولے خله ګډه کړم!" بس سلام اوکړي او لاړ شي. کنزلې کوونکي ته توبه کول پکار دي او ولے چې چا ته کنزلې اوکړې نو د هغه زړهٔ هم خفه کیږي، ځکه د هغوئي نه معافي هُم اوغواړئ. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:230)

سوال: بدګمانئ کښې د اخته کیدلو او د حُسنِ ظن نه ساتلو اسباب بیان کړئ.

جواب: د دې مختلف اسباب وي، لکه د دې په باره کښې د دیني مطالعے کمے، د ماحول اثر، بد صحبت، د پوهه کوونکو کمے او د تولو نه لوئے دا چې د بدګمانئ په وجه کیدونکو نقصاناتو طرف ته توجه نه کول، ځکه چې بعضې وخت د بدګمانئ په وجه وِیني هُم توئیږي او کورونه ورانوي، لکه خاوند چې د ښځې په باره کښې بدګماني اوکړي یا ښځه د خاوند په باره کښې بدګماني اوکړي نو د دې په نتیجه کښې به دواړه په یو بل باندې شک کوي او خبره به جنګ جګړې بلکه د دې نه هم مخکښې لاړه شي او دغسې به تول کور تباه شي. اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ په فتاوي رضویه کښې فرمائي: "بدګماني د رِیا نه کمه حرامه نه ده". (فتاویٰ رضویه،323/5) مونږ له خو د هر مسلمان په باره کښې حُسنِ ظن پکار دے، د مسلمان هر عمل په ښه ګمان باندې محمول کول یعني د هغه په باره کښې ښه ګمان قائمول واجب دي.

(فتاویٰ رضویه، 5/324ماخوذا)دغه شان بخاري شريف کښې د حضرت ابوهريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْهُ نه یوه واقعه روايت ده چې د حضرت عيسٰي عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کښې چا غلا اوکړه نو حضرتِ عيسٰي عَلَيْهِ السَّلَام ورته اوفرمائيل: آيا تا غلا اوکړه؟ هغه اووئيل: په الله مې دِ قسم وي! ما غلا نه ده کړې، حالانکه عيسٰي عَلَيْهِ السَّلَام په خپلو سترګو هغه په غلا کولو ليدلے وو. په هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام باندې د الله ويره غالبه شوه او اوئې فرمائيل: ما اومنله، زما سترګو دوکه اوخوره. (بخاری، 2/458، حدیث:3444) مونږ له هم پکار دي چې د نورو مسلمانانو د پاره حُسنِ ظَن [يعني نيک ګُمان] قائم کړو او د بدګمانۍ نه ځان اوساتو. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:122)

سوال: بعضې خلق وائي چې زنانه ته د مياشتې مبارکي نه دي ورکول پکار، آيا دا صحيح دي؟ (د سوشل ميډيا په ذريعه سوال)

جواب: که مقدسه مياشت وي لکه دلته چې د جَشنِ وِلادَت مياشت اوليده شي نو د ربيع الاول مبارکي ورکوي، که مبارکي ورکوونکے مَحرَم وي، نو مبارکي ورکولے شي لکه ورور خور ته، ځوئے مور ته او خاوند ښځې ته مبارکي ورکولے شي. (قسط:85)

سوال: آيا زنانه په عدت کښې مدني چينل کتلے شي؟ (د SMS په ذريعه سوال)

جواب: زنانه په عدّت کښې مدني چينل کتلے شي. (په مدني مذاکره کښې شريک مفتي صاحب اوفرمائيل:) که زنانه په عدت کښې مدني چينل په کور کښې ګوري نو چې په کومو صورتونو کښې نورو اسلامي خويندو ته اجازت دے په هغه صورتونو کښې ئې دا هم کتلے شي. د مدني چينل کتلو سره د عدّت داسې څه تعلق نشته چې ګڼې کتلو سره په عدّت کښې څه فرق راځي. عدّت په اصل کښې د يو وخت نوم دے کوم چې د طلاق يا [د خاوند د] مرګ په صورت کښې شروع کيږي. په عدّت کښې بنيادي طور په زنانه باندې دوه حکمونه وي: يو دا چې بغير د اجازت شرعي نه د کور نه بهر نه شي وتلے. دويم دا چې زينت يعني سنګار ميک اپ وغيره کول د زنانه د پاره منع وي. (بھارِ شریعت، 2/242244، حصه: 8 ماخوذا)(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت، قسط:36)

## که خاوند خرچه نه ورکوي نو ښځه څه اوکړي؟

سوال: که خاوند خرچه نه ورکوي نو ښځې له څه کول پکار دي؟ (د SMS په ذریعه سوال)

جواب: ښځې ته نان، نفقه، روټۍ او مکان ورکول په خاوند باندې واجب دي، که نه ئې ورکوي نو ګنهګار به وي . (جوہرۃ نیرۃ،2/108) دا ټول څیزونه د نه ورکولو په صورت کښې ښځه مقدمه هم کولے شي، قاضي به هغې له د خاوند نه خرچه اخلي. (بہارِ شریعت،2/269،حصه:8) خو اوس داسې انداز نه دے پاتې. ځکه په داسې صورت کښې دِ د خاندان خلق په خپل مینځ کښې د خبرې حل را اوباسي او ترکیب دِ جوړ کړي. که مقدمه کوي نو کور به خراب شي او خبره به مشکله شي، بدنامي او رسوائي به ئې هم اوشي خاوند له هم پکار دي چې د خپلې ښځې جائز اخراجات د کوم چې شریعت پوره کولو اجازت ورکړے دے هغه پوره کوي.

(ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:88)

سوال: که خاوند تنګ دسته وي نو ښځې له څه کول پکار دي؟ (د نګران شُوریٰ سوال)

جواب: د خاوند حوصله افزائي دِ کوي او تسلي دِ ورکوي چې تاسو فکر مه کوئ. په داسې موقع دِ فرمائش نه کوي، ځکه چې فرمائش هم په ازمیښت کښې اچول کوي او بعضې وخت خاوند د حرامو طرف ته هُم بوځي. ښځه که خاوند آزاد پرېږدي [یعنې د هغه په هره خبره کښې مداخلت نه کوي] نو خاوند به په سکون ژوند تیروي او هغه به tension free وي (یعنې د ذهني دباؤ نه به آزاد) وي، که الله پاک ته منظوره وه نو برکتونه به هم راشي. د چا په نصیب کښې چې کومه روزي وي هغه ضرور ملاویږي. عوامي متل دے: د روزۍ هُم ډیرې بهانے دي او د مرګ هُم ډیرې بهانے دي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:66)

## د ښځې په ترکه کښې د خاوند حصه

سوال: که ښځه وفات شي نو د هغې په مال کښې به خاوند ته څه ملاویږي؟

جواب: که ښځه وفات شي نو د هغې د مال نه به د ټولو نه اول د سُنَّتو مطابق د هغې تجهيز و تكفين اوكړے شي، بيا د دې نه پس كه په هغې باندې قرض وي نو هغه دِ ادا كړے شي، بيا كه هغې څه جائز وصيت كړے وي نو د هغې د مال د دريمې حِصَّے نه دِ د هغې وصيت پوره كړے شي، بيا چې كوم مال پاتې شي په هغې كښې خاوند ته د حِصَّے ملاويدو دوه صورتونه دي كه د ښځې څوئ يا لور يا د څوئ له طرفه نمسے يا نمسئ نه وي نو په داسې صورت كښې به خاوند ته د ټول مال نيمه حصه ملاويږي او كه د ښځې څوئ يا لور يا د څوئ له طرفه نمسے يا نمسئ وي نو داسې صورت كښې به خاوند ته د ټول مال څلورمه حصه ملاويږي چنانچه پاره 4 سُوْرَةُالنِّسَآء آيت نمبر 12 كښې د خدائے رحمٰن فرمان عاليشان دے:

وَ لَكُمۡ نِصۡفُ مَا تَرَكَ اَزۡوَاجُكُمۡ اِنۡ لَّمۡ يَكُنۡ لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَاِنۡ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكۡنَ مِنۡۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٍ يُّوۡصِيۡنَ بِهَاۤ اَوۡ دَيۡنٍ ؕ

[مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالاِيمان: او ستاسو بيبيانې چې څه پريږدي په هغې كښې ستاسو د پاره نيمه ده كه د هغو اولاد نه وي، بيا كه د هغو اولاد وي نو د هغو په تركه كښې ستاسو د پاره څلورمه ده، كوم چې هغو وصيت كړے وو او قرض ويستلو نه پس.

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، قسط:17)

سوال: آيا په خاوند د ښځې هر خواهش پوره كول لازمي دي؟

جواب: قرآن پاک كښې ارشاد دے: ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾ (پ5، النساء:34)

[مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالاِيمان: نارينه په زنانو باندې افسران دي."

نو نارينه په زنانه باندې افسر دے. لِهٰذا زنانه له د نارينه اطاعت او فرمانبرداري كول پكار دي. د دې برخلاف كه ښځه اوغواړي چې خاوند دِ زما مني او زما فرمانبردار دِ اوسي نو دا صحيح نه ده. جائز درخواستونه او فرمائشونه مثلاً قسماقسم خوراكونه، د نوو نوو ډيزائنونو

کپړے وغيره وغيره غوښتل پوره کول په خاوند باندې واجب نه دي. واجب صرف نان نفقه وغيره ده البته که خاوند ئې نور فرمائشونه هم پوره کوي نو دا به په ښځه باندې احسان وي. ولے چې دا د ثواب کار دے ځکه خاوند له چې څومره کيدے شي [د ښځې] جائز خواهشات پوره کول پکار دي. (ملفوظاتِ امیرِاہلِ سنت،قسط:24)

> **نوټ**: د غيبت دا لاندينې مثالونه د امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د کتاب "غیبت کی تباہ کاریاں" نه نقل شوي دي، دا په دې مناسبت دلته شامل کړے شوی دي چې دا خبرې د ښځې او خاوند دنياوي ژوند کښې هم فساد راولی او د هغوئي د اُخروي ژوند د پاره هم د نقصان او خسارے سبب دی.

## "غيبت ناجائز و حرام دے" د وولّسو حُروفو په نسبت د مور په کور کښې د سخرګنئ متعلق کيدونکو غيبتونو 17 مثالونه

❁ خواښې مې هر وخت پرسيدلے مخ نيولے وي ❁ په هره خبره کښې چينجې راوباسي ❁ زما پخلے د هغې نۀ خوښيږي ❁ زما طبعيت چې خراب وي نو خواښې مې وائي بهانے جوړوې ❁ بله اينګور ورته ډيره ګرانه ده ❁ زما سره د پردو په شان سلوک ولے کوي ❁ ډيره نيغه او سخت مزاجه ده ❁ په ما باندې هر وخت خپل حکم چلوي ❁ خاوند ته زما خلاف خبرې کوي ❁ خواښې په ما باندې ډير کار کوي او پخپله تو له ورځ په بستره پرته وي ❁ مور او لور يو ځائے شي او زما بدې بيانوي ❁ خواښې خاوند زما خلاف کړے دے ❁ اوس که زه سره زر هم جوړه شم خو هغه به ما بيا هُم د ښپو پيزار ګڼړي ❁ څو څو ګينټے د هغه انتظار کووم چې راشي نو مخ اوپړسوي او کښيني ❁ د هغه د هغې تور مخې طلاقنړې خور خدمتونه هم زما په سر وي ❁ زما فلانکئ طلاقنړه اِندرور ډيره د خلې نه خلاصه ده ❁ طلاق ئې واخستو خو

لا زور [بدمعاشي] ئې نه ده ختمه ❁اوريدلي مو دي چې يوه ورځ ئې هم خپل خاوند ته آرام نه دے ورکړے آخر هغه عاجزه که طلاق نه ورکولے نو څه ئې کړي وے.

## ''د مسلمان بے عزتي کول حرام دي'' د 22 حروفو

## په نسبت د سخرګنۍ د خپلوانو د غيبتونو 22 مثالونه

❁زما خور د هغې خواښې تنګوي ❁اوښے مې د کور خرچه نه ورکوي ❁چې څه ګټې تولې مور له ئې ورکوي ❁زوم زما په لور باندې ډير ظلم کوي ❁د مور په خبرو کښې راشي او د کور نه د اوباسلو دهمکياني ورکوي ❁د مور په غُصَّه کولو ئې په خبره وهي ❁د طلاق دهمکۍ ورکوي ❁د شپې ناوخته پورې د کور نه بهر وي ❁د ورځې ناوخته پورې اوده وي ❁ناراسته دے ❁د دويمې ښځې په چکر کښې دے ❁د هغۀ ملګري ښه خلق نه دي ❁اوريدلي مو دي چې نشه وغيره هم کوي ❁زمونږ د ډير سپيره سړي سره تَعَلُّق پريوتے دے ❁بس هسې شے دے ❁زهرژن مار دے ❁د هغۀ په زړۀ کښې دوکه ده ❁جاهِل دے ❁ بےوقوفه دے ❁جاهِلِ مطلق دے ❁ زما د ځوئ خواښې جادوګره ده ❁اِنګور مې تعويذونه او کوډې کړي دي او زما ځوئ ئې خپل طرف ته کړے دے، ځکه زما ځوئ زما يوه خبره هُم نه مني.

## د کوېژدن په ماتيدلو يا طلاق کيدلو باندې کيدونکي د غيبتونو 37 مثالونه

که کوېژدن ماته شي يا طلاق واقع شي نو اکثر شيطان دواړو ډلې د غوږ نه اونيسي او ميدان ته ئې راولي او هُغه هُغه څه پرې اوکړي چې اَلْاَمَان وَالْحَفِيْظ!!! د غيبتونو، تهمتونو، الزام لګولو، عيبونو بيانولو، زړه آزارولو، بدګمانۍ او ردو بدو يو طوفان راشي، د يو بل هره ښه خبره ورته عيب جوړه شي! هر فريق خپل ځان ''مظلوم'' ثابتولو د پاره د يو بل نه زيات دروغ وائي حالانکه د کلونو نه ئې کور سم چليږي خو چې کله په دواړو خاندانونو

کښې ”جنګ“ شروع شي، نو فريق مقابل ته مَعَاذَاللہ ”بدعقيده“ پورې اووائي! په داسې موقع باندې د کېدونکو غيبتونو 37 مثالونه ملاحظه کړئ: د جينئ له طرفه غيبتونه: ❁شرابي وو ❁جواري وو ❁بدمعاش ❁بےغيرته ❁لوفر دے ❁بے فائدے ګرځي ❁ 420 وو ❁کار به ئې نه کولو ❁د کور خرچ به ئې نه ورکولو ❁ټولې پيسے به ئې د مور په لاس کښې ورکولې ❁کله ئې کور ته کور نه وو وئيلے ❁خوابنې به روټئ نه ورکوله ځکه به جينئ د خپل جيب نه خوړله ❁لويو ظالمَانو سره مو سر شوے وو ❁ګير شوي وو ❁ډير په مشکل ترينه راخلاص شُو ❁زمونږ لُور به ئې بےقصوره وهله ❁مونږ ته به ډير نيغيدو ❁ټول خاندان ئې سپک دے زمونږ د معيار خلق نه وو ❁زمونږ په جينئ باندې ئې بنه [دويمه ښځه] راوستل غوښتل ❁مونږ ته ئې د قتل دهمکئ راکول شروع کړي وو ❁زمونږه جينئ ئې بدنامول شروع کړي وو ❁نالائقه [کم ذاته] آخر خپل ذات ښکاره کړو.

د هلک له طرفه غيبتونه: ❁د جينئ چال چلن صحيح نه وو ❁ډير آشنايان ئې جوړ کړي وو ❁په کور کښې به ئې خُله ډيره خوزوله ❁مور ئې ورته د ښځې چل نه وو ښودلے ❁لوښي وينځل هم نه ورتلل ❁کپړے ئې هم سمې نه شوې وينځلے ❁ډيره جنګيرئ وه ❁غلاګانې به ئې کولې ❁تعويذونه کوډې به ئې کولې ❁جادوګره وه ❁بَلا وه ❁زمونږ د کور سکون ئې برباد کړے وو ❁د دې مور زمونږ کره راغلې وه او مونږ ته ئې ښيرې کړې وې ❁مونږ خو دې بدنام کړو ❁مونږ غريبه اوګڼړله زړه مو پرې خُوګ کړو خو د هغې خو دماغ آسمان ته رسيدلې وو وغيره وغيره.

## د کور خبره بهر کوونکے کم ذاته دے

د اللہ پاک نه د خير او د هدايت دعا ده، يقيناً خوک چې غيبتونه وغيره کوي هغه ډير زيات غلط بنده دے. راځئ چې تاسو ته د يو ښه بنده حکايت عرض کړم چنانچه يو بزرګ رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه

فرمائي: د يو صاحبِ راز (يعنې خبره پټه ساتلو والا سړي) نڪاح اوشوه خو د دواړو سوچ د يو بل نه ډير مختلف وو. په څه طريقه د هغه ملګري ته د دې پته اولګيده، هغه ترينه تپوس اوکړو: ستاسو د کور څه مسئله ده؟ هغه صاحبِ راز جواب ورکړو: زه دومره ڪم ذاته نه يم چې د کور خبره چاته اووايم! خبره لاړه راغله. بالآخر کور اُونۀ چليدو او طلاق اوشو. کله چې د هغه ملګري ته پته اولګيده نو اوئې وئيل: اوس خو هغه ستا ښځه نه ده، اووايه څه معامله وه؟ هغه عقلمند کس جواب ورکړو: اوس خو هغه زما د پاره ګويا پردئ ښځه ده، او د يوے پردئ زنانه متعلق زه څنګه خبره اوکړم!

اللہ ہم کو فضل سے عقلِ سلیم دے　　　شرم و حیا طُفیلِ رسولِ کریم دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او لـمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کېدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتُو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتُونو سره ټوله شپه تېروئ؛ ✽ د سُنّتُو د تربیَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ✽ هره ورځ د "فِکرِ مَدینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ؛ او د هرې مَدَني میاشتې په یکُم تاریخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com